مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ
۲۰۲۲/۰۴/۰۹

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(لومړی برخه)




**(ولوله!)**

د قرآن کریم د بقرې سورت په۲٦۹ آیت شریف کې لولو:
﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ﴾
ژباړه:«چا ته یې چې خوښه شي حکمت ورکوي او چا ته چې حکمت ورکړی شي هغه ته په حقیقت کې ستر دولت ورکړای شو، له دې خبرو څخه یوازې هغه کسان درس اخلي چې د پوهې خاوندان دي.»
په (تفسیر نمونه) کې د پورته آیت شریف په تفسیر کې داسې ویل شوي:«د حکمت ورکړه د الله تعالی له لوري ده، خو په عین حال کې په دې جمله کې د الله (ج) نوم نه دی یاد شوی، یوازې فرمایي چې:«چا ته چې حکمت ورکړای شي هغه ته په حقیقت کې ستر دولت ورکړای شو.» دا تعبیر دې ته اشاره کوي چې پوهه او حکمت ذاتاً ښه دي له هر لوري یا له هر چا چې زده کړای شي په نېکۍ کې یې توپیر نه شته.
پوهېږو چې انسان له نورو ساکښو (حیواناتو) څخه لوړه پوهه لري، د عقل یا پوهې له امله ده چې د الله تعالی، د نور مخلوق په پرتله د انسان مقام لوړ دی: ﴿وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا﴾ انسان د خپلې پوهې او حکمت پر بنسټ کولی شي ډېر څه زده او ترسره یې کړي چې له هغو څخه یو هم (لیک لوست) دی، نور ساکښ ځیني ځیزونه درک کولی شي خو د انسان په څېر یې نه شي کولی لیک لوست زده کړي، د تاریخ په اوږدو کې لیک لوست د انسانانو د ژوند په هره برخه کې مهم رول درلودلی او لري یې، که لیک نه وای د نړۍ د ادیانو، تاریخي او نورو کتابونو به شتون نه درلود او نه به دینونه په خپل اصلي حال پاتې وو چې د بېلابېلو عواملو له کبله او د وخت په تېرېدو سره د ادیانو ښووني او تاریخي پېښې به له منځه تللې وای، لکه چې وایي:«بیان په دوه ډوله دی:غږیز (شفاهي) بیان او لیکلي (تحریري) بیان، شفاهي بیان د وخت په تېرېدو سره هېرېږي او له منځ ځي خو لیکلي پېښې تل پاتې وي.»
نن ورځ د لیک لوست برکت دی چې هر ډول صنعت، کشفیات او اختراعات یې رامنځ کړي دي، تر هغې چې انسان یې تر سپوږمۍ پورې رسولی دی، مریخ او نورو سیارو ته یې د پلټنې وسایل لېږلي دي، دا د لیک لوست پایلې دي چې په نړۍ کې په هره برخه کې لوی، لوی خدمتونه ترسره شوي دي چې انسانانو ته یې بې ساري ښېګڼې رسیدلي دي، لنډه دا چې لیک لوست د ټولو علومو او فنونو سرچینه ده.
پوهانو د انسانانو د ژوند کولو پېر په دوو برخو وېشلی دی چې قبل التاریخ او تاریخي پېر یې بولي، کله چې انسانانو لیک دود اختراع کړ له هغې وروسته زمانه یې تاریخي پېر وباله او له هغې وړاندې پړاو ته یې ماقبل تاریخ وویل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

څرګنده ده چې د نړۍ د ټولو ادیانو احکام او ښوونې د اړوندو ژبو په لیک دود لیکل شوي دي او د زرګونو کلونو په تېرېدو سره موږ ته رارسېدلي دي. د اسلام د سپېڅلي کتاب قرآن مجید د (علق) سورت لومړي پنځه مبارک آیتونو چې په هغې کې د (ولوله!) حکم دوه ځله راغلی دی او انسان ته د قلم په وسیله د علم د ورکړې یادونه پکې شوې ده، زموږ پر ستر پیغمبر، محمد (ص) باندې په داسې حال کې نازل شوي دي چې په خپله په لیک لوست نه پوهېده او د مکې د سیمې خلک په جهالت کې اوسېدل، نومړي آیاتونه په هر زمان او مکان کې د زده کړې په برخه کې د تطبیق وړ دي او د لیک لوست په زده کړه کې دې عمل پرې وشي:

﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ(۱) خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ(۲) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (۳) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ(۴) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ(۵) ﴾

ژباړه:«ولوله! د خپل رب په نوم، چې هغه [ټول مخلوقات] پیدا کړي دي. هغه چې انسان یې له کلکې شوې وینې څخه خلق کړ. ولوله چې ستا رب ډېر مهربان دی. هغه چې د قلم په وسیله یې علم ورکړ. انسان ته یې هغه علم ورکړ، چې نه پرې پوهېده.» (د علق سورت)

نه یوازې په دې نړۍ کې لوست لیک لوی ارزښت لري، په بله نړۍ کې هم د لیک او لوستلو اړتیا ښکاري، داسې چې هر څوک خپل د عمل نامې کتاب په خپله لولي چې په هغه ځای کې د کتاب د لوستلو وړتیا الله تعالی ورکوي، په اړه یې په قرآن عظیم کې راغلي دي:

﴿اقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا﴾
ژباړه:[ورته وبه ویل شي] «ولوله خپله عمل نامه، نن د خپلې محاسبې لپاره ته په خپله کافي یې.» (اسراء: ۱۴)
له بل پلوه قلم چې د لیکلو وسیله ده، د الله تعالی له لوري انسان ته د قلم په وسیله علم ورکړ شو:
﴿الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ﴾ د قرآن کریم (۶۸) سورت د (القلم) په نوم نومول شوی دی او الله تعالی په قلم او لیک، دواړو باندې لوړه کړې ده فرمايي:




ژباړه:«نون، قسم په قلم او په هغه څه چې لیکي یې.»

ومو لوستل چې د لیک لوست او قلم مقام د الله (ج) پر وړاندې تر کومې کچې لوړدی او په دې وسیله لوی ښتن انسانانو ته ښوونې کړې دي.
پوهه په کوښښ او زیار سره ترلاسه کیږي، د پوهه برخه دېره لویه ده چې څوک ترې برخمن شي، له ډېرو ښېګڼو سره به مخ وي، د زده کړو ترلاسه کولو په اړه لوی ښتن پیغمبر (ع) ته د (طه) په سورت کې ښوونه کړې ده چې دا ښوونه د نورو انسانانو په زده کړو پورې هم تړاو لري تر څو له الله تعالی څخه غوښتنه وکړي چې په خپل کوښښ سره د دوی په پوهه کې زیاتوالي راولي:﴿رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ ژباړه:«پروردګاره! زما پوهه زیاته کړه.» (ط:۱۱۴)
او ابراهیم (ع) له خدای تعالی څخه د پوهې او حکمت غوښتنه کوي او بیا غواړي چې له صالحانو سره یو ځای شي، په دې مانا چې کله څوک د پوهې ښتن شي نو له صالحانو سره یو ځای کیدی شي، ځکه چې صالحان هم د حکمت او پوهې ښتنتان دي:﴿رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾ ژباړه:«ای زما ربه! ما ته حکم (علم عمل حکمت نبوت) وبښه او له صالحانو سره مې یو ځای کړه.» (شعراء: ۸۳)

۱۴۰۱/۱/۱۹ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ